۲۰۱۵/۰۲/۲۳

اووین بنیټ جونس:
ژباړونکي: ببرک زی ځدراڼ

# د پښتنو په هیواد کې د ډیورنډ کرښې دواړه خواوې

لمړی برخه

(*لیکوال: په اسلام آباد کې د بي بي سي د سیا سي تحلیلونو او څیړنیزو مسایلو نامتو خبریال اووین بنیټ جونس*)
ژباړونکي: له انګلیسي څخه الماني ژبې ته نامتو خبریال ښاغلي نیلس کادرچکه، له الماني څخه پښتو ژبې ته سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

## سرچینه: لوماند ډیپلوماتیک

د افغانستان او پاکستان ترمنځ پوله د انګریزانو د کولونیالستي نړیوال ځواک لخوا ایستل شوي ده. دغه استعماري کرښه وچه د پښتون ولس او د پښتنو د سیمو ترمنځ تیریږي. پښتانه ملتپال، پښتانه ولسي مشران او پښتانه طالبان هر یو خپلي موخي او لیوالتیاوې کله له یو بل سره او کله هم د یو بل پر ضد تعقیبوي.
د افغانستان او پاکستان د سرحدي سیمو کړکیچ د اوسنی خونړیو جګړو سره نیغ په نیغ ترو لري. د افریقا د مالي هیواد د تیمبوکتو ښار څخه را نیولي تر کندهاره جهادي غورځنګونه، حکومتونه، توکمي ډلي، په ځینو مواردو کی قبیلي د خپل سیمه ییز ځواک او په قدرت کي د تولو نه د مخکښتوب لپاره جنګیږي. په دغه سیمو کي هر یو کړکیچ د پیچلي سیمه ییزو ځانګړو ځانګړتیاوو څخه راتوکیدلي او رامنځ ته شویدی: د بیلګي په ډول په یادو سیموکي قصداً بي پوښتني، په خپل سر او په سرزورۍ ډول نړیوالي پولي ایستل شوي. د ځواکمنو او کمزورو اسلامي غورځنګونو رامنځ ته کیدل (هغه غورځنګونه چي ترهګر نه بلل کیږي)، د بهرنیو پوځونو شتون او یا نشتون، دلته دا مهمه نه ده، چي دوی (د لویدیځ پوځونه او یا جهادیان دي) او ورستي ټکي د کولونیالیزم سره د دوی ډول ډول تاریخي تجربي دي.
د لویدیځ حکومتونو په اند، په دغه وسله والو کړکیچونو کي ځیني کړکیچونه د نورو څخه مهم دي.
همداسي لکه فرانسي ته دا د منلو وړ نه وه، چي د مالي هیواد د سخت دریځو لاس ته ور و لویږي. فرانسویانو په ښکاره توګه د مالي پر هیواد باندي پوځي برغل وکړ. فرانسویانو بیا دي ته ورته یو عمل د سومالیا په هیواد کي ونه کړو. لویدیځوالو د سومالیا کړکیچ ته قصداً پاملرنه ونه کړه. تر اوسه پته ونه لګیده، چي دوی ولي دغه وسله وال کړکیچ افریقایي اتحاد ته ورپریښود.
د سوریه په اړه لومړی داسي ویل کیدل، په هر ډول چي وي باید د القاعدې مخه ونیول شي، تر څو نوره د سوریي خاوره لاندي نه کړي. اما القاعدې پورې تړلي ډلي او اسلامي دولت همدغه عمل تر سره کړو. د ۲۰۱۴ کال د نوامبر د میاشتي په پیل کي ولسمشر اوباما د اسلامي دولت ډلي پر ضد د هوایي بریدونو امر ورکړ. ظاهراً تر اوسه د دغو غبرګونون په ښودلو سره هیڅ یو منطقي پریکړه کوونکي یا برخلیک ټاکونکي بهیر را برسیره نه شو.
یوه بله بیلګه، په یمن کي د القاعدې پلویانو وکولي شول، په خلاص لاس د لویدیځ په وړاندي ترهګریزیو موخي او بریدونه پلان کړي. د دغو ترهګرو ډلو په وړاندي جګړه د امریکي متحده ایالاتو لخوا د یمن کمزوري وسله وال ځواک ته ور وسپارل شوه. امریکایانو یواځي د بي پیلوټه الوتکو له لارې هوایي بریدونه تر سره کړل.
دي بیلګو ته په کتو سره د پښتنو سیمي یا د پښتنو هیواد یوه ځانګړي استثناء یي خورا مهمه سیمه جوړوي. د جهادیانو پر ضد جګړه کي لویدیځوالو دولتونو خپل ټول موجود جنګي قوت او تکتیکونه استعمال کړل. دوی ځمکني پوځونه استعمال کړل، هوایي بمبارډونه وکړل، د بي پیلوټه الوتکو بریدونه تر سره شول، ځانګړو کړیو ته بډې او پیسي ورکول، تولنیزه پروګرامونه پلي کول، زیربنایي پروژې او پروګرامونه پلي کول او همداسي د دوی د نورو چارو په مدیریت کي هیڅ راز کمښت نه لیدل کیدل، دا ټول د دې لپاره ترسره کیږي، تر څو پښتانه تر کنټرل لاندې راوستل شي.

## د کوکنارو کروندې او اتومي وسلې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څه شي او څوک به په څه ډول موږ ته اوس په یمن کې د دوی د کړو وړو دغه توپیري چلند تشرح کړي؟
کوم بریدونه چې د پښتنو د سیمو څخه طرح شوي وو، لکه د سپټمبر یولسمي نیټې برید، دغو بریدونو خپلي موخي په سمه توګه وویشتلي.
د دغو بریدو نو په پرتله کله چې په یمن کې په خورا مهارت سره ترهګریزه بریدونه پلا شول او همدغه بریدونه بیا په ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې کشف او شنډ کړل شول. (۱)
د پښتنو هیواد یا خاوري ته د متحده ایالاتو لیوالتیا او یا د برید اصلي موخه یوازې دا نه وه، چې د یولسم سپټمبر د بریدونو غچ واخلي. موږ پوهیږو، چې ټوله نړۍ د کوکنارو د کښت او کر څخه ځښته ډیره ناارامه ده. د دې برسیره رښتوني او اصلي خبره دا ده، چې په دغه سیمه کې د پاکستاني اټومي وسلو یوه ستره برخه ځای پر ځای شوي ده .
د پښتنو په سیمو کې او د پښتنو د هیواد په شا خوا سیمو کې کړکیچني او پیچلي اړیکو د یو سلو پنځوسو کالونو څخه را په دېخوا په پرله پسي توګه د نړیوالو زبرځواکونو په پلازمېنو کې سیاسي، پوځي چارواکي او سیاسي څیړونکي مصروف ساتلي دي. د پښتنو دغه مهمه مسئله نن واشنګټن ته، پرون ماسکو ته او له دې وړاندې لندن ته ور په غاړه وه.
په ۱۸۹۳ کال کې لویې بریتانیا د ډیورنډ کرښه ویستله، دوی غوښتل له دې لارې افغانستان د برتانوي هند د شمال ختیځ سیمو څخه بیل کړي. دغه کرښه نن پاکستان منلي ده. افغانستان اصلاً دا کرښه نه مني. ځکه دیورنډ کرښه پښتون ولس سره ویشي. پښتانه د اټکل له مخې یو په دریو په افغانستان کې او دوه په دریو برخي په (پاکستان) پښتونخوا کې اوسیږي.
هغه مهال دغه موقتي کرښه یا ډیمرکټیشن لاین د یوې خانګړې موخې لپاره رامنځ ته شوه. د بریتانیا ښکیلاکګري اداري سیاسي چارواکو هیڅ کله د پښتنو سیمي د خپلي امپراتورۍ برخه نه ده ګڼلې. بلکې دوی د پښتنو سیمي د حایل یا د بیلونکي سیمي په نامه پیژندلې. دغه سیمه د برتانوي هند په اداري جوړښت کې څو ځلې د حایل سیمي په نامه یاده شوي ده. په همدې ترتیب سره انګریزانو د پښتنو نیولي شوي سیمي د (settled resas) د ثبات راوړنکي سیمي په نامه هم یادی کړي دي) او د ډیورنډ کرښې ته ورڅیرمه سیمو ته د tribal areas یا د (قبا یلي سیمي) په نومو نو ونومولي.
د انګریزانو له خوا به د قبایلي سیمو ځینو سپین ګیرو او قومي مشرانو ته پیسي او رسمي القاب ورکول کیدل، په بدل کې به دوی په سیمه کې د سولې ساتنه کوله او د دوی د ټولو څخه مهمه دنده دا وه، چې د لارو یا د سړکونو امنیت خوندي وساتي.
د انګریزي ښکیلاکګر ځواک به له دې لارې خپلي پوځي موخي په ډیره کمه او ارزانه بیه تر سره کولې. دوی به تل دا هڅه کوله د خپلي امپراتورۍ د دغي څنډې امنیت چې په هر ډول وي خوندي وساتي.
کله چې انګریزان وپوهیدل، چې د بدو او پیسو ورکولو له لارې څه نه ترلاسه کیږي. په ۱۹۰۱ کال کې انګریزانو د Frontier Crime Regultion یا د ایف سي ار قانون رامنځته کړو. دغې قانون دوه مهمې قاعدې درلودې، د دې قانون لارې به قبایلي مشران جبراً همکاریو ته مجبور کیدل.
لومړۍ، ولسي خلک به تر یوې نامالومې مودې پورې پرته له قضایي دوعوې څخه په بند کې ساتل کیدل.
دوهم دا شوني وه، چې د ایف سي ار قانون له مخې به خلکو ته ډله ییز سزاګاني اوروول کیدې.
د انګریز انو ښکیلاکګرو چارواکو زر دې ته پام شو، چې د ایف سي ار قانون په قبایلي سیستم او قبایلي جوړښتونه کې د سیمنټو په شان کارول کیږي.
په ۱۹۴۷ کال کې د پاکستان له جوړیدو سره داسي تمه کیده، چې دغه غیر انساني قانون به بدل شي. د تمې خلاف د پاکستان نوي جوړ شوي دولت هڅه وکړه، قبایلي سیمي او قبایلیان د انګریزانو په پرتله لا نور تر ظالمونو لاندې ټینګې وساتل. په ریښتوني توګه پاکستان ترننه په دې ونه توانید، چې په قبایلي سیموکې بدلون راولي. په پاکستان کې ترننه لکه د انګریزانو په شان د قبایلیانو کورنیو او قبیلو ته ډله ییزې سزاګاني ورکول کیږي او همداسي د یو مظنون یا مجرم د نیولو په بدل کې ټولې قبیلي ته سزا ورکول کیږي.
قبایل او قبایلي وګړي د پاکستان دولتي چارواکو ته له همدې امله لکه د دوی مخکني انګریز سیاسي اجنټانو په څیر ګوري.ځکه دوی پر آزادو قبایلیانو باندې په یو بیساري ډول خپل واک چلوي او له دوی سره ډیر ظالمانه چلند کوي
د مقالې لیکوال ښاغلي اوون بنی جونس لیکي: ما ته په سرحدي ایالات خیبر پښتونخوا کې یوه پاکستاني اجینټ په ډګر وویل، په دغه سیمه کې زه (ژباړن نعوذالله) د خدای ځای ناستي یم.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څیر و لولئ

د افغانستان له خوا د کابل مرکزي حکومت هیڅ مهال دومره ځواکمن نه وو، چې د قبایلو قبایلي وفادارۍ ورڅیري کړي او دوی ځان ته رامات کړي. له همدې امله د کرښې په دواړو خوا وې کې خلکو ته له اقتصادي او ټولنیز پلوه سترې تباه کوونکې پایلې درلودلي دي. په خیبر پښتونخوا کې ۷۰ سلنه ښځې نالوستې پاتې دي .
یولسمې د سپتمبر څخه را ورسته په پښتني سیمو کې د اشغال ځانګړو میتودنو یوه خاصه مانا موندلې.
کله چې په ۲۰۱۱ کال د نوامبر میاشت کې شمالي تلوالې د امریکایانو په مرسته کابل ونیو، طالبان او القاعده له افغانستان څخه وشړل شول. د دوی ډیرې د ډیورند کرښې په بله غاړه د پاکستان ترولکې لاندې د پښتنو په سیمو کې ځانونه خوندې کړل. همدغه کرښه د جهادیانو په ګټه پریوتې ده. د واشنګټن، کابل او اسلام اباد پوځې ځواکونو په پرتله جهادیان او قبایلي جنګیالي پر ته له کوم خنډ څخه پر کرښه تګ راتګ کوي.
کله چې جګړې دوام وموند او افغان طالبانو ځانونه په نویو ډلو کې تنظیم کړل. د امریکامتحده ایالات د یوې ګرانې پوښتنې سره مخامخ شوه، یا به د پاکستان د سیاسي اجنټانو له لارې قبایلي مشران د بډو ورکولو او یا د ګواښلو له لارې دې ته وهڅول شي، چې فراري طالب جنګیالي امریکایانو ته بیر ته وسپاري او یا به امریکایان د دوی په وړاندې زور استعمال کړي.
په واشنګټن کې هیچ چا دا سي نه غوښتل، چې د ترهګري ضد جګړې یوه مهمه جبهه د قبایلي سیمو یو شمیر چارواکو ته په لاس کې ورکړل شي. له همدې امله داسي پریکړه وشوه، چې د متحده ایالاتو سرتیرې د افغانستان په خاوره کې به ځای پر ځای کیږي او د همدې ځانګړو ځواکونو او د درونې الوتکو له لارې به د ډیورنډ کرښې پر دوواړو خواوو باندې بریدونه تر سره کیږي. د امریکایانو له دې پریکړې سره د ډیورنډ کرښې په دواړو غاړو کې قومي مشران او ولسي سپین ګیرې تر سخت فشار لاندې راغلل. دغه وضیعت دوی ته ډیر ګران تمام شو، دوی سم نه پوهیدل، چې جهادیانو ته پناه او پټنځایونه ورکړي؟ او یا جهادیان ونیسي او امریکایانو ته د پیسو په بدل کې وروسپاري؟. قومي مشران د دې ګرانې پریکړي سره دې ته هم مجبور شول، چې د خپلو سیمه ییزو خپلمنځي قومي شخړو ته هم فکر وکړي په همدې ترتیب سره دوی د مذهبي او ملتپالو مشرانو ترمنځ د ټکر ګواښ په فکر کې هم شول.
په ۱۹۳۰ مو کلونو کې ستر ولسي روحاني شخصیت ایپي فقیر د انګریزانو د ښکیلاک پر ضد جنګیده. حاجی میرزاعلی خان د ډیورنډ کرښې په دواړو خواو کې د پښتنو او پښتني ټولني څخه دفاع کوله. دی په خپله سیمه کې د یوې پیښې په ترڅ کې په ډراماتیک ډول په یو ستر ملي شخصیت بدل شو. د تعجب وړ خبر دا ده، چې په اوسني وخت کې دې پیښې ته ورته یو بله حیرانوکې پیښه هم رامنځ ته شوي ده.
له دې پیښې څخه ورسته ملا محمد عمر د طالبانو د غورځنګ مشر وټاکل شو. کله چې د سیمه ییزو توپکمارو له خوا دووې نجونې وتښتولي شوې او ملا عمر دغه دووې نجونې د بي عزتي څخه وژغورلې، له همدې پیښې څخه ورسته د طالبانو غورځنګ رامنځ ته شو.
په ۱۹۳۶ کال کې هغه مهال د ایپي فقیر کرسماتیک شخصیت را برسیره شو، کله چې ده د برتانوې هند د یوې محکمې د پریکړي په وړاندې احتجاج وکړ. د محکمې د پریکړې سره سم د یوې ۱۵ لس کلني انجلي وده له یو مسلمان سړی سره فسخه اعلان شو. د هندې کورنې انجلي ته اجازه نه وه، چې د خپل قانوني میړه سره یو ځای واوسي. ځکه انجلي په پنځلس کلني کې اسلام قبول کړي وو. ایپي فقیر د خپلو خلکو د قهر جنو احساساتو څخه ګټه واخیسته، ده په ځای ناستي، بي حرکته او بې تفاوته قبایلي ځواکوانه یې پاځون او یووالې ته وهڅول. دی ډیر ژر په دې بریالي شو، چې د افغانستان او برتانوې هند له پښتنو څخه یو څو زره کسیزه لښکر تیار کړي.
ایپي فقیر په لومړۍ سرکې د مذهبي او اسلامي تبلیغاتو له لارې مسلمانان دېته تیارول، چې د نړۍ پای را نږدې شوي دی، که غواړي چې جنت ولاړ ل شي، نو ځانونه ور ته چمتو کړي. عامو خلکو د ده په خبر باندې باور درلود. د ده پلویانو په دې باور وو، چې ایپي فقیر له اسرارو څخه ډک یو روحانی انسان دی. عامو خلکو د ده پر عالي کرکتر باندې ډیر ټینګ باور درلود. خلک په دې باور وو، چې میرزاعلي خان غیر طبعیي توانمندي او ځانګړي قابلیتونه لري. خلکو داسي فکر کاوه، چې فقیر کولي شي، ناروغ سړی بیرته روغولي شي او یا دی کولي شي دانګریزانو د الوتکو څخه را غورځولي شوي بمونه په کاغذونو باندې واړوي. انګریزانو به د الوتکو له لارې پر قبایلي سیمو باندې کله بمونه او کله د پرو پاګندې پاڼې را غورځولي.
کله چې په ۱۹۴۷ کال کې پاکستان رامنځ ته شو، ایپي فقیر نور نشو کولې د اسلام په نامه د نوی رامنځ ته شوي دولت د اسلامي دلایلو له لارې تر پوښتني لاندې راولي. ده په نوي پاکستان کې خپل اوپوزسیون ته ملتپال غږ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وکړو. ايپي فقير ويل، ،،چې موږ پښتانه لا تراوسه د برتانوي هند له استعماره نه يو وتلي. پښتنو ته په نوی پاکستان کې هيڅ برخه نه ده ورکړل شوي او دوی ته هيڅ په لاس نه دي ورغلي،، .
فقير ايپي د پښتنو د ملتپال ستر مشر خان عبدا لغفار خان سره يو اتحاد رامنځ ته کړو.
کله چې انګرېزانو د هند له نيمې وچې څخه وتل پيل کړل، د پښتنو په سيمو کې د انګرېزانو د استعمار او ښکيلاک پر ضد ستر مبلغ او کرسماتيک شخصيت غفار خان ته د پاخون ډيره زمينه مساعده شوه.
انګرېزانو د پښتنو ملتپالو سره په ننني خيبر پښتونخوا کې د يوې ټولپښتني په ترڅ کې يو ستره دوکه يا خيانت وکړو

## ملتپال پښتانه د طالبانو په وړاندې

خان عبدالغفار خان د انګرېزانو څخه په کلکه غوښتنه وکړه، په ټولپښتنه کې يواځې د هند او پاکستان ترمنځ له انتخاب سره مخالفت دی، ټولپښتنه يواځې د هند او پاکستان ترمنځ باید نه وي، بلکې په ټولپښتنه کې دريم الترنتيف د يو خپلواک دولت د پښتونخوا په نامه هم بايد وليکل شي. هممهاله د کابل حکومت د څلورم حالت غوښتنه وکړه، پښتونخوا بايد له افغانستان سره بير ته يو ځای شي.
په هند کې د برتانوي هند ورستي وايسراي لارد لويز مونتبيټن په هماغه لومړنی دوه الترنتيفونو باندې اکتفأ وکړه او په ټولپښتنه کې يواځې د هند يا پاکستان انتخاب ته اجازه ورکړه.
خان عبدالغفار خان له همدې امله د ټولپښتني سره پريکون اعلان وکړ. د پريکون د اعلان سره سم ۴۵ سلنه څخه ډير وګړو په ټولپښتنه کې برخه وانه خيسته. هغو کسانو چې په ټولپښتنه کې برخه واخيسته دوی مجبور شول ۹۹ سلنه پاکستان ته راې ورکړي.
د پښتنو ملتپال غورځنګ ړنګ نشو او دا غورځنګ تر اوسه په پښتنو کې شتون لري.
ليکوال ليکي، چې دی په خپله لس کاله مخکې په خيبر پښتونخوا کې د زروګونو تنو سرخ پوشانو په يوه ستره غونده کې برخه واخيسته. دا د عوامي نيشنل ګوند (اې اين پي) يو لاريون وو. دغه ګوند مستقيماً د خدايي خدمتګار غورځنګ څخه رامنځ ته شوي دی، چې لارښود او بنسټ ايښودونکي خان عبدالغفار خان دی. نن د عوامي نيشنل ګوند د خان عبدالغفارخان د لمسي اسفنديار ولي خان له خوا اداره او رهبري کيږي. ده اوس مهال خپله مبارزه قصداً او په ويښه توګه يواځې د لا نور سيميزه اوتونومي يا سيمه ييزه خپلواکۍ لپاره منحصره کړې ده.
ځکه د بيلتونپالني غوښتني په پاکستان کې منع دي، اما په دې خبره کې هيڅ څوک شک نه لري، چې د پښتنو د يووالي او د پښتنو خپلواکې هڅې رواني دي او څه څنګه چې موقع ورته برابره شي، د پښتنو يووالي به په خپله رامنځ ته کيږي.
له يوې خوا سړی کولي شي داسي وانګيري، چې اې اين پي يو بې مانا او بې اغيزه سيمه ييزه ګوند دی، ځکه دغه ګوند د پاکستان په ملي شورا يا ولسي جرګه کې دوه غړي لري او له بلې خوا سړی کولي شي دليل راوړي او ووايي، چې د نورو ګوندونو په پرتله دغه ګوند د هيواد يو خورا مهم سياسي ګوند دی، ځکه دغه ګوند يو خورا پر مختللي، ليبرال، ازاد مؤقف او سياست لري او د طالبانو په وړاندې يو ښکاره اپوزيسيوني سياست لري.
په داسي حال کې چې په پاکستان کې نور ټول ګوندونه او سياسي ځواکونه د جهاديانو سره په پټه او ښکاره همکاري کوي او <u>اې اين پي</u> په دې بر خه کې هيڅ راز جوړ جاړي ته تيار نه دی. دغه ګوند خپل دې ډول سياست ته يوه ستر بيه هم ورکوي.
پاکستاني طالبان په ډيره بې رحمې سره د عوامي نيشنل ګوند پر مشرانو باندې بريدونه کوي. ورسته له هغې چې د ګوند مهم کدرونه او مشران د طالبانو له خوا ووژل شول. په ۲۰۱۳ کال کې <u>اې اين پي</u> په خلکو کې خپل ملاتړ ورو رور له لاسه ورکړو. عامو خلکو فکر کاوه، چې دغه ګوند به دوی ته په اسلام اباد کې هيڅ څه تر لاسه نه کړي.
د مذهبي تندلار په وړاندې د اې اين پي يواځيني مبارزه د مرکزي حکومت له خوا لانور ټکول کيږي.
مرکزي حکومت سخته ويره لري، چې اې اين پي د پاکستان د ځمکنې بشپړتيا لپاره يو ستر ګواښ دی.
که څه هم اسلام اباد بايد په لومړی پړاو کې د سخت دريزو څخه وويريږي، جهاديانو د پاکستان د ځمکنۍ بشپړتيا ته واقعاً ستر ګواښ پيښ کړي دی.
د پښتنو ملتپالو د يووالي موخو ته تل دوه نليری کيدونکي خنډونه ولاړ دي.
لومړی خنډ: د پښتنو هيواد په دوو دولتونو کې ويشل شوي دی. ملتپال پښتانه هيڅکله نه غواړي د خپل هيواد د يوې برخې څخه لاس په سر شي. په عين وخت کې دغه کړکيچ د کشمير کړکيچ سره ورته والي لری. هلته د کشميري ملتپالو د خپلواکۍ هڅو مخه لاين اف کنټرل نيولي يا دغه کرښه د دوی د هڅو په منځ کې يو خنډ ګرځيدلي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کشميري ملتپال هم د هند او پاکستان څخه خپلواکۍ او خلاصون غواړي. دلته د ډيورنډ کرښې د پښتنو ملتپالو د يو جلا خپلواک پښتني دولت خوب مخه نيولي ده.
دويم خنډ: په دې کړکيچ کې د اسلام آباد حکومت په دې توانيدلي دی، چې پښتنو د بيلتونپالو مشرانو او فعالينو سره همکاري وکړي. دوی د پښتنو د ځينو مخوورو کورنيو څخه ځينې کسان په وسله وال پوځ کې په لوړ و لوړو پوستونو کې ګمارلي دی. دوی ته د حکومت په اداري سيستم کې يو څه برخه ورکړل شوي ده. پاکستان کې پښتانه د پوځ او ملکې ادارو په جګو جګو پوستونو او رتبو کې ګمارلي شوي دي. دوی ته د خپلواکۍ بيه ډيره لوړه پريوځي. کومه بيه چې اکثرو خلکو د خپلواکۍ لپاره په ځان منلي ده. په همدې تر تيب سره په کراچي کې سوداګر پښتانه به ډی څه له لاسه ورکړي.
له دې ټولو خبرو او زيانو سره سره اکثريت پښتون ولس به خامخا د مذهبي سخت دريځو مشرانو په پرتله خپل ملاتړ د پښتنو ملتپالو څخه اعلان کړي، تر هغي چې دوی په دې نا پايه پردې لعنتي جګړه کې د يو نندار چې رول ولوبوي.
د پاکستان ترجوړيدو پوري په درسته پښتنه ټولنه کې پښتانه قومي مشران او پښتانه خانان بر لاسې وو. دا مهاله ملايان په پښتنه ټولنه کې نالوستي خلک ګڼل کيدل. پښتنه ټولنه کې ملايانو اقتدار د قومي مشرانو او خانانو په پرتله ډير لږ وه او لږ ښه نوم او واک خاوندان وو. په ټولنه کې د ملايانو مهمې چارې په جوماتونو کې امامت، د لمونځونه ادا کول، د نکاح مراسم اجرا کول او د مړی د خښونې په مراسموکې به خامخا دوی ګډون درلود.
په دې ورستيو لسو کالونو کې د ډيورنډ کرښې په دواړو غاړو کې قومي مشرانو د خپلو ليوتياوو او موخو د فاع لپاره قومي لښکرې منظمي کړي دي. دغه قومي لښکرې د طالبانو د ځواکونو په وړاندې هم استعمال شوې. هر هغه حکومت چې د طالبانو پر ضد جګړه کې ښکيل وو، هغه هڅه کړي تر څو د قومونو او قبايلو وفادار ي ځانته راخپله کړي. دغه سياست په ډير قوي احتمال سره ناسم او متضاد ووخوت، ځکه له يوې خوا دغې سياست قومي جوړښتونه په ناسم تينګ کړل او له بلې خوا د ټولنيرو او اقتصادي ودې په لاره کې خنډ وګرځيدو. د دې برسيره په اوږد مهاله موده کې دغه سياست د جهاديانو د نويو پلويانو او سرتيرو په راجلبولو کې مرسته کوله.
 دا خبره تر ډيره بريده يقيني بريښي، هغو کسانو چې په افغانستان او پاکستان کې د طالبانو په د رامنځ ته کولو او تقويه کولو کې مرسته کړي، د دوی يوه اصلي موخه په دې انقلابي ستراتيجکۍ ټکي باندې راڅرخيده،چې له دې لارې د پښتني ټولنې او د پښتنو قومي جوړښتونه او ارزښتونه له بيخه او بنياد څخه ويستل شي .
په دې ورستيو لسو کالونو کې پاکستاني طالبانو د۱۰۰۰ څخه ډير قومي مشران او سپين ګيري وژلي دی.
د پښتنو په سيمو کې د توکميزو، مذهبونو او قومي جوړښتونو څيړل او راسپړل کوم آسان کار نه دی. موږ به دلته د بيلګې په ډول د حقاني شبکې مشر جلال الدين حقاني، چې د حقاني شبکې بنسټ ايښودونکې او مشر دی را وسپړو دغي جنګي ويره اچوونکې دلې په دې ورستيو ۴۰ کالونو له ډول ډول جهادې تنظيمونو لکه د القاعدې له ډلې او د افغان او پاکستاني طالبانو سره همکاري کړي ده. د حقاني شبکې د پاکستان له حکومتونو او د متحده عربي اماراتو سره هم همکاري کړي ده. کله نا کله د حقاني شبکې د دې ځواکونو ترمنځ منځګړتوب هم کړي دی. دغه ډله په افغانستان کې د شوروي اتحاد او امريکايي سرتيرو په وړاندې له برياوو سره جنګيدلي ده. جلال الدين حقاني خپلې نظامي او پوځې چارې ته مالي مصارف د نړيوالو سوداګريو له لارې تر لاسه کوي. د حقاني شبکه د زړو اوسپينو د سوداګرې څخه نيولي بيا ان د يرغمل نيولو او تښتونې څخه هم خپلې پيسې ترلاسه کوي. د يوې محدودې مودې پوري دوی خپل شخصي هوايي ډګر هم درلود. د حقاني دوه ځامن د امريکايي بې پيلوته الوتکو له لارې وژل شوي دي. يو زوي يې د امريکايي سرتيرو له خوا د افغانستان په ختيځ کې وژل شوي او د حقاني څلورم زوي تير کال په اسلام آباد کې په يوه ګونګه پيښه کې، چې په سر او پای باندې هيڅ څوک پوه نشول ووژل شو.
د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ